محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۱۲/۱۷

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### اتمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب ځو پرله پسي لیکني خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نیستي کي مي دا ځېرنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ووینې، د مهرباني له مخي دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

## دریم فصل

**پښین:**

پښین (Pṣin) د اوسني بلوچستان ایالت یوه صوبه (district)ده چي مرکز ئې د پښین ښار دئ. د پښین صوبه په دغه سیمه کي د پښتني قبایلو تر ټولو لویه صوبه ده.

پښین د کوټي (Quetta) په شمال کي پروت دئ. په ختیځ کي له قلعه سیف الله او لورالایي سره ،په شمال ختیځ کي له افغانستان سره او په لویدیځ کي له قلعه عبدالله سره نښتی دئ.

د پښین او کوټي تر منځ د رېل پټلی له کوږک تونل (تنډبل) څخه تېرېږي.

د لورالایي ګزیټر د پښتو ترجمې (۷۱) له مخي په ۱۹۰۷م کال کي د پښین په ضلع کي دري لکه نفوس آباد ول.

د "بلوچستان کي قبائل" چي د ضلعي ګزیټر مختصره اردو ترجمه ده، په ۱۴مخ (چاپ ۱۹۸۹ع) کي د ۱۹۰۱م کال د احصائیې له مخي کښلي دي چي په دغه وخت کي په دې ضلع کي دري قصبې (کوټه، پښین او چمن) موجودې وې چي دري سره تر برتانوي اشغال وروسته تشکیلي سوي وې. ورپسي ئې زیاته کړې ده چي د ۱۸۸۴ع کال له یوه رپوټ سره سم په پښین کي تقریباً یو نیم سل کلي او قریې وې.
د ۱۹۰۱ع کال د احصائیې له مخي د پښین تحصیل کلي ۲۷۱ ته لوړ سوي ول.

د پښین اصلي اوسېدونکي ترینان، کاکړان او سیدان دي. د سیدانو ژبه ئې پښتو ده.
د حیات افغاني مؤلف د خپل کتاب د لیکلو پر وخت ( ۱۸۶۵م) لیکلي دي چي په پښین کي له سیدانو، کاکړانو او تور ترین پرته نور قومونه نسته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د دوهمي نړيوالي جګړې پر مهال انګرېزانو په دغه سيمه کي دوې هوايي اډې جوړي کړې چي يوه ئې په پښين او بله ئې په سرانانو کي وه. د پښين دا اوسنی ښار په ۱۸۸۳م کي انګرېزانو د نظامي او ملکي مرکز په توګه جوړ کړ.

علامه عبدالشکور رشاد د جغرافيايي يادښتونه د لومړي برخي په ۹۶ مخ کي د ( Geographical Dictionary of Ancient and Medieval India) په حواله کښلي دي ": Pašāṇa" د پښين ناوه ده چي د افغانستان په سهيلي سيمه کي واقع ده .د خواجه امران غر چي د پښين غربي سرحد تشکيلوي " Pašṇaparvata" په نامه بلل سوی دئ.

علامه مرحوم پخپل بل اثر کي کښلي دي : ابن حوقل په څلرم قرن کي په صورة الارض کي اوسنی پښين د باشين په ډول ليکلی دئ. دده په قول الرخج د زينداور او باشين تر منځ پروت دئ.

دغه راز ئې ليکلي دي : په حدود العالم او د ياقوت حموي په معجم البلدان کي د غرستان (غرجستان) مرکزي ښار بشين ليکلی دئ. (۷۲)

علامه عبدالحي حبيبي د" شيران باميان" پاچهانو په باب د يوې مقالي په ترڅ کي د ناصر خسرو قباديانی ( ۴۸۱هـ ق مړ) دوه بيته راوړي دي چي زموږ تر بحث لاندي پښين ( بشين) ته اشاره لري:

مر طغرل ترکـــــمان و جغری را
بـا بـخت نـــبود و بـا مـهـی کاری

استـاده بـُدی بـه بـامــيـان شـيـری
بـنـشستـه بـه عز در بـشين شاری (۷۳)

له شار څخه مراد پاچا دئ او شاعر وايي چي په بشين ( د غرستان پايتخت) کي پاچا پر تخت ناست وو.(۷۴) غرستان يا غرجستان پخوا يوې پراخي سيمي ته ويل کېده چي لغتنامهٔ دهخدا ئې دتاريخ ګزيده صـ ۳۹۷ په حواله داسي راښيي : "ناحيهٔ بزرګ کوهستانی است که در افغانستان ميان هرات و کابل واقع است".

لکه پورته چي مو ولوستل الرخج (اوسنی کندهار) د باشين او زينداور ترمنځ واقع بلل سوی دئ. له دې اسيته بشين ـ باشين له پښين پرته بل ځای نسي ګڼل کېدلای.

پښين په پخوانيو او وسنيو ليکلو منابعو کي په بېلابېلو نومونو راغلی دئ.

علامه رشاد ليکلي دي چي د صورة الارض په ۱۵۵ مخ کي ابوالقاسم محمد ابن حوقل چي په ۳۳۱هـ ق کال کي په سفر وتلی وو، د پښين سيمه د " اسفنجای" په نامه يادوي. دی د الرخج په باب ليکي چي الرخج يوه سيمه ده چي پايتخت ئې پنجوايي دئ... بالش د يوې سيمي نوم دئ چي د حاکم ځای ئې سيوی ده. (۷۵) والي په قصر (۷۶) کي کښيني. اسفنجای تر قصر لوی دئ. له پنجوايي څخه تر بالش پوري ئې مزلونه داسي راوړي دي :
له پنجوايي څخه رباط سنګي ( رباط الحجر) (۷۷) يو مزل، تر کنکي رباط پوري يو مزل، تر رباط برکه پوري يو مزل او اسفنجای ( پښين) يو مزل... قصر اسفنجای ته مخامخ واقع دئ. د اسفنجای او قصر تر منځ فاصله يو فرسخ ده. اسفنجای ښايسته کلا لري. د اسفنجای څخه تر سيوی پوري دوه مزلونه دي. (۷۸)
ابن حوقل بل ځای د الرخج موقعيت د داور او باشين ( پښين) تر منځ ښيي. (۷۹)

ابو اسحق ابراهيم اصطخري د مسالک و ممالک په ۱۹۲ مخ کي هم د اسفنجای نوم تقريباً پر همدې موقعيت راوړی دئ او په ۲۰۰ مخ کي له رخج څخه تر اسفنجای پوري مزلونه د ابن حوقل له ليکني سر سم راوړي دي : " از رخج به رباط سنګين روند يک منزل، آنګه به رباط جنګی، آنګه به رباط بر، آنګه به اسفنجای، جمله چهار مرحله". (۸۰)
ابوالفضل ئې په آئين اکبري کي د " پشنګ" په شکل راوړي او د کندهار د سرکار برخه ئې بللي ده. دی وايي پشنګ د اومو خښتو زړه کلا لري ۳۸ تومنه پيسي، ۳۲۰۰ پسونه، پنځه سوه خرواره غله، ۱۵۰۰ سپاره او ۱۵۰۰ پياده عسکر لري. (۸۱)

حافظ رحمت بړېڅ ( ۱۱۲۰ـ ۱۱۸۸هـ ق) چي د لوی احمد شاه بابا معاصر دئ، پخپل کتاب خلاصة الانساب کي هر ځای د پښين نوم د" پشين" په شکل ليکي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

فیض محمد کاتب هزاره ئي په " نژادنامهٔ افغان کي فوشنج  لیکي. ده د" فرقهٔ تور ترین" تر عنوان لاندي کښلي دي:
"این فرقه ( هفت هزار و پنجصد خانه) و در علاقهٔ فوشنج واقع در بین کویته و سلسله کوه چمن ، موطن و مسکن دارند، و فوشنج هموار و در جنوب ملک قوم درانی اتفاق، و در دست استعمار انگلیس به فاصلهٔ کوه کوژک افتاده از جانب مغرب به علاقهٔ شورابک موطن قوم بړیچ و از طرف جنوب به کویته که محدود به کوه تکه تو واقع مابین آن قوم کاکړ است، محدود و در طول هشتاد و در عرض چهل میل وسعت دارد. و بر علاوهٔ فرقهٔ تور ترین پنج هزار خانهاز سید و همسایهٔ قوم کاکړ که مجموع دوازده هزار و پنجصد خانه باشد، دران متوطن و از سادات تجار با ثروت بدانجا زیست و معیشت نموده..." (۸۲)

میر غلام محمدغبار پخپل تاریخ کي د پښین پر ځای فوشنج هم لیکلی دئ. ده کښلي دي :" علاقه های شال، فوشنج تا کوژک ... طبق معاهده گندمک از طرف امیر محمد یعقوبخان به حکومت انگلیس داده شد." (۸۳)
محمد یوسف ریاضی هروي چي د امیر شیرعلیخان معاصر دئ پخپل کتاب " عین الوقایع" کي (۱۰۷مخ چاپ ۱۳۶۹ تهران) د سید نورمحمد شاه له نامه سره "پشنگی" لیکي چي مراد ئې " پښینګی" دئ. (۸۴)

په هرات کي د پښین له ساداتو څخه ځو کورنی له قدیمه میشتي دي او په هغو کي ملاعبدالحق پشنگی په هرات کي د اهل سنت والجماعة له ډېرو جیدو علماوو څخه وو . ملا عبدالحق هغه سړی وو چي په ۱۳۵۳هـ ق = ۱۸۳۷م کال ئې د هرات پر ښار باندي د ایراني لښکرو د یرغل او تیري پر ضد د جهاد فتوای د هرات د مسجد جامع له منبره څخه ورکړه. (۸۵)

په عین الوقایع (۱۱۷مخ) کي ئې د امیر محمد یعقوب خان او انګلیسانو د معاهدې په دریمه کي هم " پشنگ" کلمه د پښین له پاره راوړې ده او له " سیوی" سره ئې متصله لیکلې ده. سیوی د پښین په ګاونډ کي سیمه ده او د هرات له فوشنج څخه په سوو کیلومتره لیري پرته ده.

سید قاسم رشتیا په " افغانستان در قرن نزده فصل ۲۷ صـــ ۲۵۱ پنځم ، انتشارات میوند" کي د سید نورمحمد شاه له نامه سره فوشنجی کښلی دئ. خو په ۲۶۳ مخ کي دي بیا دده له نامه سره " قندهاری" لیکلی دئ :" ... و امیر شیرعلیخان و وزیر او سید نورمحمد شاه قندهاری در همان وقت بر این حکمیت نامنصفانه هیئت انگلیس صدای احتجاج بلند کرده". له دي څخه په واضح ډول ښکاري چي د مرحوم سید قاسم رشتیا مراد له فوشنج څخه د هرات فوشنج نه دئ، بلکي مطلب ئې پښین دئ.

په فارسي اریانا دائرة المعارف، پنځم ټوک، صـ ۴۷۴۲ کي کښلي دي:
" سید نورمحمد شاه ... از شخصیت های برجسته و رجال سیاسی عصر امیر شیرعلیخان بشمار میرود اصلاً از ناحیهٔ فوشنج از مضافات هرات بوده است..."
البته دا څرګنده تېروتنه ده او ما( م. هوتک)ستاسي مخ ته پروت کتاب د همدې تېروتني دسمون له پاره کښلی دئ.

## د پښین تاریخي شالید ( پس منظر) (۸۶)

باید وویل سي چي د اتلسمي میلادي پېړۍ تر نیمایي پوري یعني تر هغه وخته پوري چي کوټه (کوئټه) بالآخره د برتانوي واکدارانو لاس ته ولوېده،د کوټي ـ پښین تاریخ کټ مټ د کندهار ولایت تاریخ دئ.

د پښین ډېره لرغوني یادونه په اوستایي لیکنو کي موندلای سو. په دغو لیکنو کي ئې پشیننها (Pishinanha) د یوې داسي سیمي مرتفع ناوه (وادي) بللې ده چي پراخ اوار دښتونه لري.

امکان لري چي کراتیروس (Krateros) به هغه وخت چي د لوی سکندر له لښکر څخه د اندوس په ناوه کي بېل سو، د هلمند ناوې له لاري پارس ته د تګ په اوږدو کي به له کوټي څخه تېر سوی وي . دا حقیقت له هغي یوناني مجسمي څخه څرګندېږي چي د کوټي ددې اوسنی چوڼی د ودانولو پر وخت وموندل سوه او له دې څخه بیا دا هم څرګندېږي چي کوټه تر میلاد دوې پېړۍ پخوا د یوناني ـ باختري امپراتورۍ یوه برخه ګرځېدلې وه.

موږ د دیارلسمي مېلادي پېړۍ پوري د کوټي ـ پښین د تاریخ په باب لږ معلومات لرو. دومره قدر یقیني ده چي کوټه ـ پښین د غزنوي دورې د امیر سبکتګین او غزنوي سلطان محمود د پاچهۍ یوه برخه وه ځکه موږ اورو چي دغو دوو پاچهانو د خضدار تر جنوب پوري مارشونه کړي دي او له دوی څخه باید دا سیمي د غزني غوري خاندان ته هم پاته سوي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

د دیارلسمې میلادي پېړۍ په سر کې تر پښین د برشور نوم د یوه مشهور ځای په توګه زیات تر سترګو کېږي او طبقات ناصري ئې د خیوا د خوارزم شاه سلطان محمد خان د پاچهۍ یوه برخه ګڼي او د مِلِک اختیارالدین محمود د جاګیر په توګه ئې رابښیي ... دغه راز ویل کېږي چې سلطان جلال الدین خوارزمشاه ته چې په ۱۲۲۱م کې غزني ته نژدې مغلوماته ورکړه، نو دی اندوس ته د تګ په لار کې تر برشور واوښت او له دغه وخته کندهار او د هغه توابع د مغولو لاس ته ورغلل.

په څورلسمه میلادي پېړۍ کې د هرات کرت ملوکانو پر کندهار باندې واکمني کوله خو ددغې پېړۍ په پای کې کندهار د تیمور لاس ته ورغی او هغه خپل لمسي پیرمحمد ته وروباخښه . د پنځلسمې مېلادي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې کندهار د تیمور د اولادې سلطان شاهرخ او سلطان ابو سعید بهادر خان تر حکم لاندې وو او غلب ګومان دادئ چې د همدې پېړۍ په شروع کې به ترین قبایل ، چې اوس په پښین کې اوسي، له خپل اصلي ټاټوبي تخت سلیمان څخه را مهاجر سوي او دې سیمې ته به رالي وي.

د ۱۴۷۰م کال په شاوخوا کې سلطان حسین میرزا قدرت ته ورسېد او ده وروسته د شال، پشنګ (Pushang)او سیوۍ سیمې امیر شجاع الدین ذوالنون ارغون ته وبخښلې. ذوالنون د شاه بېګ خان پلار وو چې په دغه وخت کې د پښین او بهکرترمنځ سیمو کې ئې د یادونې وړ شهرت ګټلی وو. نوموړی د خپل پلار پر جاګیر ناست وو او په ۱۵۱۱م کې وینو چې کله بابر له کابله دده پر خلاف راوخوځېد،شاه بېګ شال ته ولاړ. شال په هغه وخت کې د ترخان مغل میر فاضل کوکلتاش او عبدالعلي تر واک لاندې وو. شاه بېګ له شال څخه څو پلا پر سیوۍ او شاوخوا باندې بریدونه وکړل خو پا پای کې د بابر له خوا په ۱۵۱۷م کې له شال او سیوۍ څخه وایستل سو او بابر په ۱۵۲۶م کې د ډهلي تخت په بري سره تر لاسه کړ.

د ۱۵۳۰م او ۱۵۴۵م کلونو تر منځ کندهار د امپراتور همایون د ورور میرزا کامران په تصرف کې وو. په همدغه وخت (۱۵۴۳م) کې همایون له هندوستان څخه د وتلو پر مهال کوټي ته ورسېد او د خپل اکا (تره) میرزا عسکري په موافقه ئې خپل یو کلن زوی اکبر هورې پرېښوو، چې اکبر بیا وروسته د مغولو تر امپراتورۍ لاندې هندوستان و ډېر ځلاند پوړ ته وخېژاوه. په دغه وخت کې میرزا عسکري د کامران په نمایندګي پر کندهار واکمن وو. همایون پخپله تر دې وروسته د نوشکي (Nushki) پر لار ګرمسېل او بیا هرات ته ولاړ. همایون چې دوه کاله وروسته بېرته راغبرګ سو، کندهار بیا د همایون تر واک لاندې سو او د مغلو دې واکمنۍ تر ۱۵۵۹م پورې دوام وکړ. همایون چې د امپراتور ۍ تخت ته ورسېد، د شال او مستونګ سیمې ئې لونګ خان بلوڅ ته وبخښلې خو په تاریخ کې دلونګ خان بلوڅ په باب نور تفصیل نسته ... د همایون تر مرګ ( ۱۵۵۶م) ژر وروسته کندهار او د هغه توابع د امپراتور اکبر په امر د پارس د صفوي شاهانو تر حکم لاندې سول او دې واکمنۍ تر ۱۵۹۵م پورې دوام وکړ او وروسته بیا د مغولو لاس ته ورغلل. په دغه وخت کې موږ د آئین اکبري د بیان له مخې وینو چې شال او مستونګ د کندهار سرکار په ختیځو مربوطاتو کې راغلي دي او د عوایدو مفصل لیست ئې راوړی دئ چې وروسته به ئې ولولئ.

پر شال او پښین باندې د مغولو له بیا واکمن کېدلو لږ وروسته یعني د ۱۶۱۴م کال د جولای پر لومړۍ نېټه ستیل او کراوتر (Steel and Crowther) له اجمیر څخه اصفهان ته د تګ په لار کې پشین ته چې دوی ئې پیسینګا (Pesinga) بولي، رارسېدلي دي. دوی وایي چې پسینګا په دغه وخت کې یوه کوچنۍ کلا درلوده او د لارې د محافظت له پاره عسکر پکښې ځای پر ځای ول. دا مسافر له پښین څخه د کوږک کوتل له لارې تر خواجه عمران غره اوښتي او کندهار ته رسېدلي دي.په دغه وخت کې ددغو غرو او په هغو کې د اوسېدونکو بیان ئې دواړه هم په زړه پورې او جالب دئ. دوی لیکي چې" د کندهار په د غرو کې ډېر بې رحمه خلک اوسېږي چې اوغاني (Agwāns) یا پټان (Potāns) ئې بولي. دوی ډېر غښتلي بدنونه لري، تر هندوستانیانو ئې رنګونه یو څه سپین دي، غښ ډاړه ماران دي او د بسته کاروانو له وهلو سره عادت دي خو په اوس وخت کې یا د مغولو له ډاره یا د تجارت د خوند څکلو له اسیته ډېر مدني سوي دي...

په ۱۶۲۲م کې کندهار یو وار بیا د صفوي کورنۍ تر تسلط لاندې راغی او د یوې لنډې مودې پرته یعني له ۱۶۳۸م څخه تر ۱۶۴۹م پورې چې مغولو ته دپارس د ګورنر علیمردان خان له خوا تسلیم سو، نور نو په ۱۷۰۹م کال کې د میرویس په مشرۍ د غلجیانو د کورنۍ د پاڅون تر وخته پورې د پارسیانو تر سلطې لاندې وو.

په صفوي پاچهانو کې شاه عباس په ۱۶۳۲م کې د کندهار تصرف تر لاسه کړ، پښین او د هغه قبیلوي مربوطات ئې شیرخان ترین ته ورکړل. داسې ښکاري چې شیرخان ترین نیمه خپلواک سوی وو او اووه کاله وروسته ئې د شاه عباس له مړیني سره سم ئې د والي علیمردان حکم ته له غاړې اېښوولو څخه انکار وکړ. علیمردان خان د شیرخان په غیاب کې هغه وخت چې شیرخان په لوټ پسې وتلی وو،د پښین بازار ته نژدې پر شبران کلا باندې له څلورو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زرو سپرو سره برید وکړ او کلا ئي ونیوله. شیرخان چي له ډېرو کلونو راهیسي یوه زیاته اندازه خزانه او نور قیمتي شیان د لوټ له لاري راغوند کړي ول،ټول د علیمردان له خوا ضبط سول. شیرخان چي په دې حال خبر سو په ډېره چټکي سره ئي پر علیمردان خان باندي پښین ته نژدې حمله وکړه خو مات سو او دوکی او چوټیالي ته پر شا سو. (۸۷)

تر څه مودې وروسته شاه جهان شیرخان ترین ته بلنه ورکړه چي د صفویانو او د هند د چغتایي دولت د نورو مخالفانو پر خلاف همکاري ورسره وکړي. شیرخان ئي بلنه ومنله او شاه جهان دوه هزاري منصب او شل زره روپۍ د مېلمستیا په توګه ورکړې او ورڅخه وئي غوښتل چي په پنجاب کي واوسي. (۸۸)

شیرخان ترین د حسن خان ترین زوی وو. دی او پلار ئي د کندهار او پښین لوی خانان ول. په دانشنامهٔ آزاد ( ویکیپیدیا)کي ئي د شیرخان د نیکه نوم " عبدالقادر افغان ترینی" کښلی دئ او پر زیاته کړې ئي ده چي " ... در زمان شاه طهماسپ تابع و خراج گزار سلطان حسین حاکم قندهار بود".

امپراتور شاهجهان چي په۱۶۳۹م کي کندهار له لاسه ورکړ، وروسته ئي د هغه د بیا تسخیرولو له پاره زیاتي هلي ځلي وکړې او یو لک و څلور زره کسیز لښکر ئي د داراشکوه په مشرۍ ور ولېږه چي بیرته ئي ونیسي. شهزاده د سنګر کوټل او دوکی له لاري پښین ته روان سو او درنه توپخانه ئي بولان کوټل ته ولېږله. پارسیانو له همدې اسیته پښین لوټ کړی وو او ټولي غلې داني ئي راغوندي کړې وې. داراشکوه په پښین ډېر پاته نه سو او مخ پر کندهار ور واوښت. خو تر یوه زیات لګښت وروسته ئي د کندهار د نیولو فکر پرېښوو او پر کومه لار چي راغلی وو، بیرته ستون سو. د بیرته تګ پر وخت ئي د پښین کلا ورانه کړه.

د اوولسمي پېړۍ په پای کي براهویان راوپاڅېدل او پر کوټه و پښین دواړو ئي تېری وکړ او کوټه پر هر قیمت چي وه،د میر احمد په زمانه کي ددوی لاس ته ولوېدله. د میراحمد دوري له ۱۶۶۶م څخه تر ۱۶۹۶م پوري دېرش کاله دوام وکړ.

میرویس غلجي په ۱۷۰۹م کال کي کندهار د پارسیانو له تصرف څخه خلاص کړ او دا عجیبه خبره ده چي دا ستر کار له پښین سره په ارتباط کي سرته ورسېد. په دغه وخت کي په کندهار کي د سلطان شاه حسین صفوي نماینده د ګرګین خان په نامه یو ګرجی وو چي د خپلي قبیلې د یوې ساتونکي قطعې له خوا ملاتړ ورسره مل وو. میرویس د یوه ډېر عاقلانه پلان له مخي د پښین ترینان وپارول چي د مالیې له ورکړې څخه انکار وکړي. ده پخپله په کندهار کي تیاری ونیو او کله چي د ګرجیانو قطعه د ګورګین خان له خوا د پښین د ترینانو پر خلاف روانه سوه او ښه زیاته اندازه له کندهاره لیري سوه،میرویس په ډېر مهارت د متمردو قبایلو پر خلاف د خښم په ښودلو سره ښار ته ننووت او په ارامو اعصابو ئي ګورګین خان ته د یوې مېلمستیا بلنه ورکړه. په دې مېلمستیا کي چي ګورګین او ورسره ډله ئي د ډېري نشې له امله په درانه خوب کښېوتل، هغوی ئي ټول په همدې خوب کي ووژل. میرویس د ګرګین خان جامې واغوستلې او په ډېره اساني ئي ښار تر خپل تصرف لاندي راووست او هغه څو تنه ګورجیان چي تر شا پاته سوي ول، تسلیم کړل. هغه شپېر سوه تنه ئي چي د ترینانو پر خلاف استول سوي ول، کندهار ته د راستنېدو پرمهال تر شدید ډزو لاندي ونیول خو هغوی ځان ویوست او د ګرشك له لاري ئي پارس ته مخه کړه.

حاجي میرویس نیکه په دوهمه ملي جرګه کي چي د کندهار ښار په ختیځ کي د" مانجې" په کلي کي ئي جوړه کړه ، نو ئي د جرګي هر ګډون کوونکي ته مشخصي وظیفي ور وټاکلې. د وظیفو په دې لړ کي ئي History of Afghanistan د مؤلف Colonel G. B. Malleson (۸۹) په قول دپښین د ترینانو دوو تنو خانانو ته امر وکړ چي د مالیې له ورکولو دې انکار وکړي. (۹۰) مالیسن زیاتوي چي په پښین کي تر ټولو زور قام ترینان دي چي اوس هم سته. څرنګه چي دا قام له کندهاره ښه پوره لیري وو، ځکه نو میرویس ددوی سرداران د مالیې نه ورکولو ته وهڅول.

له دې یادوني څخه ویلای سو چي هغه وخت پښین د کندهار له توابعو څخه وو او د کندهار واکمن ته ئي مالیه ورکول. د هوتکو د پاچهي په ټوله موده کي پښین د کندهار یو برخه وه. د پټي خزانې د روایت له مخي د ژوب او شال سیمي د شاه حسین هوتک (۱۷۲۵ ـ ۱۷۳۸م) په پاچهي کي فتح سوي وې.

میر حسین د میرویس دوهم زوی په ۱۷۲۵م کال د خپل ورور میر محمود پر ځای کښېنوست او د براهویانو تاریخ ښیي چي په دغه وخت کي پښین د میر عبدالله له خوا کندهار ته نژدې له غلجیانو سره تر یوې نښتي وروسته ونیول سو او یو رئیساني ئي د ګورنر په توګه ورته وټاکه چي میر فیروز نومېد. خو داسي ښکاري چي د پښین تصرف ډېر دوام و نکړ او شاه حسین غلجي په ۱۷۳۳م کي مجبور سو چي د براهویانو پر خلاف راوخوځېږي او د پښین تشه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

کلا د دفاع په چونی (گارنیزون) بدله کاندي. دی تر دي نور هم راوړاندي سو او تر غزه بند کوتل راواوښت او کوټه ئي هم بیرته ونیوله. وروسته مستونگ ته هم ور وړاندي سو او براهویان ئي تسلیم کړل.

دي پیښي ته په پټه خزانه کي داسي اشاره سوي ده:

"هسي وايي محمد کاتب ددي کتاب چي يوه ورځ د پادشاه ظل الله په قصر کي مجلس وو، او فضلا او علما سره راټول. ناګاه احوال وسو، چي قاصد راغلی دئ، او پیغام ئي له لیري ځايه راوړی. ملا زعفران دباندي ولاړ، بيا ګړی پس بیرته مجلس ته راغئ او زیری د فتح د شال او ړوب ئي وکا، او دا بیتونه ئي عرض کړل :

د حسین پادشاه د بخت نـنـداري گـــوره
چي فتح په لښکـــرو ړوب و شـــــــال کا

چي دا زیری ئي راوړی دئ حضــــور ته
نو زعفران انعـام پر سر زغفراني شال کا

پادشاه عالم پناه ژر زعفراني شال ورکا او په دغه مجلس ئي ټولو حاضرینو ته شالونه وښندل او د پادشاه په انعام سربلند سول." (۹۱)

تر دي وروسته نادر افشار صحني ته راځي او محراب سلطان بابي ته امر کوي چي پښين اشغال کړي او مالیات ئي را غونډ کړي خو پر هغه باندي کاکړان او ترینان برید کوي او له پښینه ئي شړي...

د لوی احمد شاه بابا د پاچهی په دوران کي پښین د سیمي متنفذ شخصیت پکار خان بتي زي ته د جاګیر په توګه بخښل کیږي البته د پوځي خدماتو د برابرولو په شرایطو سره.

پښین نو بیا له ډرانو څخه د بارکزو لاس ته رسیږي چي په دغه وخت کي ئي عواید ۹۰۰ تومنه کېدل... بارکزو هم د احمد شاه بابا په شان پر پښین باندي د غوښتني پر وخت يوه ټاکلي اندازه وسله وال سپاره ایښي ول.

### د اتمي مي برخي لمنلیکونه:

۷۱ـ دا ترجمه د فاروق سمائلزي په قلم سرته رسیدلي ده او د" لرغونی بوری ـ لورالائي" په نامه د پښتو اکاډمي بلوچستان له خوا په ۱۹۷۹م کي چاپ سوي ده.
۷۲ـ رشاد، عبدالشکور، د کندهار يادانښتونه ـ ۷۷مخ
۷۳ـ شل مقالي ـ خلورمه برخه ـ ۷۶مخ
۷۴ـ په لغتنامهٔ دهخدا کي د حدودالعالم په حواله بشین ته کښلي دي : " قصبهٔ ناحیت غرجستان است بخراسان".
۷۵ـ علامه رشاد کښلي دي چي بالش د پښین او سيوی تر منځ علاقي ته ويله کېده (د کندهار يادانښتونه ، لومړی برخه ۶۲مخ)
۷۶ـ قصر د يوه ځای نوم دئ .
۷۷ـ د رباط الحجر اوسنی نوم " ډبری" دئ.
۷۸ـ د کندهار يادانښتونه ، لومړی برخه، ۵۲ مخ
۷۹ـ هماغه اثر، ۵۷ مخ
۸۰ـ وګ : مسالک و ممالک ، تالیف ابو اسحق ابراهیم اصطخری ، به اهتمام ایرج افشار، چاپ انتشارات علمی و فرهنگی، سال ۱۳۶۸ش
ځيني محققين په دي عقیده دي چي صورة الارض د ا صطخري د مسالک الممالک څخه متاثر اثر دئ.
۸۱ـ جهاني، عبدالباري، د پښین او فوشنج په باره کي يوه لنډه يادونه، افغان ـ جرمن وېبپاڼه ۶/ اکتوبر/ ۲۰۲۰م ، د آئین اکبري د انګریزي ترجمي د دوهم ټوک په حواله.
۸۲ـ کاتب، ملا فیض محمد، نژادنامهٔ افغان، صـ ۲۶، چاپ الازهر کتب خانه، قصه خوانی پشاور، ۱۳۷۹ش
۸۳ـ غبار، افغانستان در مسیر تاریخ ، صـ ۷، چاپ اول
۸۴ـ د عین الوقایع په لومړي چاپ کي دا کلمه " پشتکی" لیکل سوي ده . ددغه ناسم ثبت اغېزه سراج التواریخ ته هم رسیدلي ده او ددغه کتاب د لومړي جلد صـ ۱۸۹، ۱۹۰ ( چاپ ۱۳۷۲ش، انتشارات بلخ)کي د پشنګي پر ځای "پشتکی" کښلي ده. د عین الوقایع په دوهم چاپ کي دا تېروتنه سمه سوي ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

۸۵ـ د" عین الوقایع" کتاب د ۱۳۶۹ش کال چاپ مهتمم محمد آصف فکرت هروي ددغه مطلب په حاشیه ( ۲۹مخ، ۳ حاشیه) کي ورته کښلي دي :" سادات پشنگی در هرات معروف بوده اند".
۸۶ـ ددغي برخي محتویات مي له پنځم ټوک ، ۱۹۰۷م چاپ څخه ژباړلي او پر لازمو ځایو باندي مي نور معلومات هم پر زیات کړي دي ( م.هـ)
۸۷ـ په ویکیپیډیا ـ دانشنامۀ آزاد کي د شاه صفی یکم په بحث کي د" شورش شیر خان افغان" تر فرعي سرلیک لاندي کښلي دي :" در سال ۱۰۴۰هـ ق در ایالت قندهار شورش رخ داد. کانون اصلی شورش ناحیۀ فوشنج بود که گروهی از افغانها موسوم به کاکری در آن مسکن داشتند و حکمرانی آن در دست شیرخان افغان بود...." خو د فوشنج په شرح کي ئي زیاته کړي ده :" بوشنگ نام بیشین زنده جان مرکز ولسوالس زنده جان است." د شیرخان د حکمرانی ځای پښین وو او د هرات له زنده جان سره هیڅ اړه نه لري. ( م.هـ)
۸۸ـ وکیلي ، عزیزالدین، ابدالیان قندهارقبل از احمدشاه کبیر، صـ ۲۵۲، کابل ۱۳۹۶ش
۸۹ـ Colonel George Bruce Malleson(1842-1898) په هندوستان کي پوځي افسر او د څو کتابو مؤلف وو. ئي مشهور کتاب دئ چي منشي احمد جان په پښتو ژباړلی دئ او برتانوي افسرانو ته د پښتو ژبي د زده کولو له پاره لوستل کېدئ.
۹۰ـ وگ : History of Afghanistan دGeorge Bruce Malleson لیکنه ، ۲۲۴مخ ، لندن ، ۱۸۷۹ع
۹۱ـ پټه خزانه ـ ۱۱۳مخ، ۱۳۲۳ش چاپ، کابل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ